## د ملکي خدمتونو د بستونو د دندو لایحه

**د بست په اړه عمومي معلومات**

| | |
|---|---|
| **اداره** | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون |
| **اړونده ځانګه** | د دارالانشاء ریاست |
| **د دندې عنوان /بست** | معتمد جنسي |
| **د دندې ډول/بست** | |
| **د دندوشمېر/بست** | ۱ |
| **معاش** | |
| **د اعلان د پیل نېټه** | 1399/3/27 |
| **د اعلان د پای نېټه** | 1399/4/7 |
| **راپور ورکوونکی** | د خدماتو امریت ته |
| **د بست ځای** | کابل ښار |
| **د بیا کتنې نېټه** | |

**د دندې موخه:** پر وخت د جنسونو ویشل او د جنسونو په ساتنه کې د اسانتیاوو برابرول.

**ځانګړې دندې:**

- ✓ په ډیپو کې د جنسونو ساتنه.
- ✓ ډول ته په کتو په ډیپو کې د جنسونو تنظیمول.
- ✓ د اړوندې ډیپو د جنسونو کلنی شتون.
- ✓ د جنسونو د راوړلو او وړلو په وخت کې د جنسونو لیست کول.
- ✓ په ډیپو کې د اور وژنې وسایلو چک او کنټرولول.
- ✓ اسنادو ته په کتو د جنسونو ویش او له وېش څخه وروسته د وېش د هییت په مخ کې د ډیپو د دروازو مهرولاک کول.
- ✓ له قانون سره سم او د رسیداتو راپور ته په کتو د جنسونو تسلیمي.

**مدیریتي دندې:**

- ✓ د موخو د پلي کېدو لپاره د میاشتنې، ربعوار او کلني او د اړتیا په وخت کې د راپور ورکول.
- ✓ د قانون، مقررو او د کمېسیون د موخو لپاره د ذیصلاح امرینو له لارښوونو سره سم د ټولو دندو تر سره کول.

**د همغږۍ دندې:**

- ✓ له اړوند هییت سره په همغږۍ د جنسونو وېش.
- ✓ د معاینه هییت سره په همغږۍ د رسېداتو راپور برابرول.

**د ګمارنې شرطونه( د تحصیل کچه او کاري تجربه):**

د دندو لایحه د کارکونکو د قانون ۷او۳۴موادو په پام کې نیولو لړتر لړه د لاندې شرطونو او معیارونو سره برابره شوې.

**تحصیلي رشته:**

۱- لږ تر لږه د بلکوریا سند په لوړو نمرو ولري.

**کاري تجربه:**

کاري تجربه درلودل اړین نه دي، تجربه لرونکو کسانو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

**اړین اسناد:**

د معتبر ضمانت درلودل( د شرعي قبالې لرونکي غیرې منقول جایداد)

**اړین مهارتونه:**

۱- له فني او حرفي مرکزونو څخه د فراعت سند لرل یا کاري تجربه لرل.
۲- د دې دندې د تر سره کولو توانایي لرل.
۳- یو له رسمي ژبو باندې پوهېدل( پښتو او دري)
۴- په شرایطو برابر معلول کسان کولای شي دغه بست ته نوم لیکنه وکړي.